**مطبوعاتي اعلاميه**

**د اردن د رژيم امنيتي محكمې د استاد معتصم السالم په اړه ناعادلانه حكم صادر كړى دى**




**(ژباړه)**

د اردن رژيم تر اوسه په دغه هېواد كې د حزب التحرير ځوانان او د حقې لارې پلويان ځاري او دولت د امنيتي محكمې له لارې د دوى لپاره نمايشي او ناعادلانه محكمې جوړوي. د دغو محاكمو شرطونه د ظلم او بې عدالتيو په چوكاټ كې له وړاندې په «جندويل» كې ټاكل شوي دي، څو له هغو دعوتګرو سره جګړه وكړي چې د اسلامي ژوند د بيا راوستو لپاره د فكري او سياسي مبارزې له لارې كار كوي. همداراز كله چې پوه شول چې له حزب التحرير سره يو ځاى كېدل اسانه نه دي، چې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د دوى دښمني او د زړه ناروغي ختمه او كمه كړي، نو غلط او بې بنسټه تورونه يې نور هم ولګول لكه د دولت د تخريب تحريک. په دې اساس د ۲۰۱۸م د اكتوبر په ۲۴مه د چهارشنبه په سهار د دولت امنيتي محكمې استاد معتصم السالم چې له لسو مياشتو زيات بندي و، په دې دليل په درې كاله بند محكوم كړ چې ويل يې الله سبحانه وتعالى مې په پوره مفهوم او د ژوند په ټولو چارو كې رب دى.

لكه څنګه چې ټول پوهېږي، موږ (حزب التحرير) باوري يو چې د الله سبحانه وتعالى له لارې د خلكو د اړولو لپاره داسې ناعادلانه او ظالمانه پرېكړې زموږ د هغو دوامداره فعاليتونو خنډ نه شي كېداى، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له تګلارې سره سم يې د راشده خلافت دولت د تاسيس لپاره كوو. زموږ لپاره الله سبحانه وتعالى كافي دى. هغه د چارو ښه تدبيروونكى او له ظالمانو څخه لوى او ځواكمن دى.

﴿ **وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ**﴾ [البروج: ۸]

***ژباړه:*** *دوى پر مومنانو هېڅ غلبه نه درلوده، پرته له دې چې پر عزيز او حميد الله ايمان راوړي.*

**د حزب التحرير-ولايه اردن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: 05 / 1440No**

**۱۴۴۰هـ.ق، د صفر ۱۵مه**

**۲۰۱۸م، د اکتوبر ۲۴مه**